محمدعیان عیان ۲۰۱۷/۰۴/۲۰

ټنګه سرې

هغه چې د خپل کلي محکمې ته ورننوتله نوپه دروازه کې يې پلوراتول کړاودپلاوه غوټه يې ټينګه په لاس کې ونيوه.
دځان سره يې وويل:پاکه خدايه خيربه دې غواړم.ددې محکمې دتګ راتګ نه مې نوره دمه کړې.
ګل مرجانه ترورديِ محکمې ته په تلوراتلودومره ستړې شوې وه چې چابه دمحکمې نوم قدرې واخيستونوددې غونې به ځيګ (زيږ) شو.

*****

د ترورې د خپل ليوره سره په آوې (تر اوبو لاندې)ځمکه باندې لانجه پيښه شوې وه. په دې کلي کې دهغې خاوند اوليورځلور آوې پټې لرل چې ټول ټال ايله بيله درې جرييه کيدل اود دواړو ورونوشريک وو. په هغه وخت کې دواړه ورونه يو ځای اوسيدل اوچې کله بيل شول نودوه پټې ديوه ورواودوه دبل ورسيدل.ويش مشروروکړچې دوه دغورې پټې يې د ځان کړه.
دمرجانې خاونديوخواريکښ سړی واوپه ډيروخواريو،سرو، ښوروواوسپلنيويې خپله ځمکه دوروردهغې سره په حاصل ورکولوکې يوشان کړه.

*****

دتقديرکارونه وو،کشروورچې دګل مرجانې خاوندوپه يوه ناڅاپې مرګ سره دتل دپاره له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې اومرجانه کونډه شوه. هغې يوه رنځورغاړې زوې ته د دريونونوسره کونډتون پيل کړ.

خدايه د کونډو بچې لوې کړې
کونډې به نور بچې را نه وړې دا دې ينه

هغې چې به په کوم واده ښادۍ کې دجينکودخولونه ددير ال سره داتپه واوريده نوپه زوره به يې چغې کړې: جينکوپه خولوموبرکت شه.خدای موحيا وساته. الله پاک موپه ښوښو ځايونوکې نصيبونه وکړه.
بلې نجلۍ به بياددې دلا خوشالتيادپاره دابله په کې ورووېشته.

کونډې کونډتون دې مبارک شه
زوې دې ځلمی دی په بريتونو لاس وهينه

دې به بيا چې په لرې کټ کې به دنوروزړوښځوسره ناسته وه ورناري کړې: په خولوموبرکت شه. بې پردې مه شئ.

*****

بس تاسره خدای په نيکۍ مل شه ددونيا څه سختۍ اوکړا وونه ووچې کړاوونه وواوپه دوی راوريدلي وو. ددول ډول ستونځوسره لاس اوګريوان وواوورځ تربلې بتره وه.يوه ورځ به يې ديوه شتمن منګې ډک کړل اويابه يې ورله دټول کور جامې ووينځلې اوبله ورځ به يې دبل ماړه سړې کوراوغوجل جاروکړل اوريخپړې به يې ورله راوتوګلې.هغوی به هم بې څه نه پريښوده.يوڅودتناره سکړکان به يې دنسکودپيتو،شنو سبواويادکوم بل نګولې سره ددې په لرګينه کاسه کې ور واچول.
که څه هم هغې ددغودووپټوغله اخيستله، خويواځې په دې غله دهغوی دپينځه کسيزې کورنۍ دژوند ټولې اړتياوې نه پوره کيدې.کله به خوارکی دغنمودلوونوپه وخت کې په وټونو (هغوپټوته وايې چې غنم ترې نوې ريبل شوې وې) کې د ستريوترڅنګ دغنموشندل شوې وړې ټولول اوبيابه يې له هغونه دڅوباړې په ټکولوسره چارک نيم پاک غنم راوويستل. يابه يې دکوم ماړه ځمکه وال دميرمنې سره دهغوی دپينبې د پټې نه پنبه راټولوله چې هغې به ورته ددې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مزدورۍ په بدل کې چارک پینځه پاوه اوړه په شکرۍ کې ورواچول.په همدې فصل(مني)کې به يې دجوارودوړودسپینولومزدوري په برخه وه. کله کله به يې د جوارو د ګيډيو سلامته«دلی»په يوه سرسپينه کړه.
دشپې به يې دخلکوپاغوندې په خپله زړه کړکيچوشانته څرخه ريشلي.داڅرخه يې يووخت له«څوکی» نه ترخپل کلي «سرکانو» پورې چې خپل تورزړوکی يې ورته منجيله کړی و،په سرراوړې وه. يره خدای مې دې غاړه نه بندوي چې دا اوسنی کول(نسل)خوبه اوس تش توردې دووکليوترمينځ واټن(فاصله) ونه شي وهلی.

*****

هغه چې دښايسته مازيګرې دکلي (څوکی) نه څرخه په سر څابنت څابنت روانه شوه نودجينکوله خولې نه يې دا لنډۍ په مغزوکې را وګرځيده:

هلکه روغ به ليونی شي
که د څوکی مازيګری دې وليدنه

اوچې په پښيله سپيروپښو،چاودلوپوندواونرونرولينګويې پيټی په سردااوړده لاره(ګومان کوم چې شل کيلومتره به وي)
ووهله نوپه دمه دمه ايله بيله مازيګرمازيګرخپل کلي ته را ورسيده. دکونړ د ژمي دسين په غاړه يې دمه وکړه.څرخه يې له سرنه راکوزه کړه. دتنابي جالې دراپورې وتوپه تمه کيناسته اودسرکانو په مازيګرې يې سترګې ولګيدې. په دې وخت کې په جګوغرونو لمر په غړغړه و، څلورپينځه ګودرونه ورته مخامخ ښکاره کيدل، منګواومنګوټو کتارونه جوړکړي وو، دخلکوډيره ګڼه ګوڼه وه اودماشومانو شورپکړ يې هم له لرې اوريده. «په ژمي کې خو اوبه کمې وي نو جاله په تناب پورېوځي راپورېوځي ليکين په اوړي کې بياد«چپو» جاله چليږي. نن سباددې جالو په ځای خلک په کشتی کې اويا په پله دغې کلي ته ورځي.» نودځان سره يې وويل چې دا خوريشتيا:

د څوکی هسې نوم بدنام دی
مازيګری د سرکانو مزه کوينه

وروسته يې په زړه کې وروګرځيدل چې: نه نه ددواړو کليو مازيګرې ښايسته دي.
داڅرخه که اوس زړه اوکړکيچو هم وه، خودې به پې د شپې له خواپردۍ پاغوندې ريشلي اودورځې به يې نورې دغريبۍ اومزدورۍ منډې رامنډې وهلې.
دمزدورۍ هغه کارونه چې په کورکې به سرته رسيدل لکه ديوچا پنبه الاجي کول او...نولورګانوبه يې هم ورسره مرسته کوله. بس تاسره خدای په نيکۍ مل شه،ژوندوچې په سوچونو اوزحمتونوکې تيريدواوترمرګه پورې شپې رالنډيدې.

*****

دکلو(کليو)په ستړې ژوند،وروسته پاتې کلتوراوتودوسړوکې دګل مرجانې ليوره ملک زړورخان ته داسې درنه دوشمني پيښه شوه چې مجبوروله کلي نه کډه وکړي.له تپلې کرښې نه اخواته دپنجاب داسارت لاندې افغانستان ته واوړي اود افغانستان په محکومه ځمکه کې ژوند پيل کړي.
هغه ورووروددکورټول کالي کنډولي اوشته خرڅ کړل او خبره ځمکې ته راورسيده.څرنګه چې څلورواړه پټې دزړور خان په نامه دماليې په کتاب کې ثبت شوي وونوهغه ټول يې په ملک روحاني باندې وپلورل. ګل مرجانه چې خبره شوه، خپل ليورته يې وويل:
مونږهم ستاپه دوشمنۍ ډيرخپه يواودوا درته کوو.چې چرته تاسوځئ مونږهم درسره ځو.ستادوشمني زمونږدوشمني ده، خويره ته به داسې وکړې چې زمونږ دپټې حق به مونږته راکړې اوته به دې دخپلې ځمکې پيسې واخلې.
ملک زړورخان ورندارې ته په ځواب کې وويل: ورندارې داسې به وکړوچې خدای يې کوي. پيسې به ټولې زماسره وې اوچې کډه مووکړه نويوځای به يې لګوواويوځای به يې خورو. چې کله خلاصې شوې نوبيابه ګوروکه دچادپټې باره موکوله اوکه دچاختې ياکومه بله مزدورې موپه برخه وه. يو ځای به خوارې غريبې کوواويوځای به يې خوروڅښو.
مرجانې ورسره دانه منله اوورته ويل يې چې خپله برخه دې خپل جب کې واچوه اوزمونږدپټې بيه مونږله راکړه.

*****

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

چې د دوی تر مینځ دا موافقه ونه شوه نو مرجانه اوزوي یې چې نن سبا راغوټکی شوی شانته و،حکومت ته لاړل اوپه تره یې عریضه وکړه.عریضه له ولسوال نه محکمې ته لاړه اوقاضي زړورخان راوغوښتو.قاضي له هغه نه وپوښتل چې ولې دې ددې یتیم هلک ځمکه خرڅه کړې ده؟ زړورخان د قاضي په مخ کې وویل چې مایواځې خپله برخه خرڅه کړې ده اوددې یتیم هلک ځمکه دده جایداددی.«واه واه څومره ښه وشول چې خبره محکمې ته ورسیده.« کومه ورځ نیمه مخکې خو چې دمرجانې زوي په خپل پټې کې دجواروخوټانټې راریبلې وې چې وړې ترې مات کړې او په کورکې تې ډاډه واچوي نوپه دې وخت کې پې ملک روحاني راغلی وچې ډیرقارقوریې ورته کړی و.هغه ورته ویلې وو چې بیا دې پټوته رانه شې!ځکه مه راځه چې مادې دکاکا نه په نغدوروپواخستلې دي. دایې هم ورته ویلې ووچې که بل ځل دې په دې کرونده کې ووینم نودکونړدسیندپه غړنه به دې ډوب کړم. داسین(سیند) ددوی دځمکې لاندې ښه په جوش کې غړمبیدو.

*****

اوس چې ملک زړورخان دقاضي په مخ کې اقراروکړچې د وراره برخه یې نه ده خرڅه کړې نوقاضي هم دټکه مفتي او محرردواړه خپل دفترته راوغوښتل اودهغه دغه اقراریې شرعي قوالې ته وخیژاوه.په محکمه کې ددوی برخه ځمکه د مرجانې دزوي په نوم داسې ثبت شوه چې دواړه برخې ځمکه له سره په شرعي قواله وویشل شوې.
ملک زړورخان دملک روحاني سره په دې ځمکه جنجال درلودچې دټولې ځمکې پیسې یې ترې دګوتوکړې وې، خو هغه ته یې بیرته ددې بلې برخې پیسې ورنه کړې.
نیمه ځمکه خودګل مرجانې ترورزوي«حیات خان»په نامه په محکمه کې ثبت شوه، لیکین قاضي اومفتي هم بې برخې پا تې نه شول. دقاضي پیاده دحیات دوی دآخورې نه«زاړی خسی»(چې لاسخوندریاغوڅکی شوی نه وي) راایله کړاو د قاضي صیب کورته یې په پړې کې نیولې بوتو.
دمفتي صیب پیاده دګل مرجانې په کورکې نورڅه نه وو مندلې نودهغې دمیړه دوخت جانمازچې دښې ګلدارې وړې قالینې په ډول جوړشوی ومفتي ته ورسوغات کړ.
دوثیقې نورپا تې کارونه لکه لیکل،مهرکول اونوربه محرر صیب سرته رسوي.هغه ددی کلي اوسیدونکی اودګل مرجانې ترور لرې شان خپلوان هم دی.

*****

قاضي صیب اومفتي صیب خوپه خپلوتحفوبریتونه تازه کړل، خواوس پې وارد محررصیب انورخان دی. دترورديې الله سوب وکړي. دامحررصیب خوهغه دچاخبره «سپره وژنې اوریچه یې مزد اخلي». په مال اودولت پسې یې نوکې ښې ټینګې کړې دي او په پیسوپسې یې سا خیژي. وایي: « ماسته دهرچا خوښیږي، خو د پیشوپسې برقی دي».دده هم په پیسوپسې سترګې وځي.بس نو تروري خدای دې مل شه چې لانوربه څه کیږي؟
ددې کلي اوسیدونکی اودحیات خان دوی لرې غونتکې خپلوان محرردګل مرجانې ترور،هغه دچاخبره څوجوړه څپلکې محکمې ته په تګ راتګ زړې کړې اودسرپه کاسه کې یې ورته اوبه وخوټکولې.دهغې دلیوره، قاضي اومفتي سره خبره په اسانۍ اواره شوه، خومحررصیب ورله دنوم محکمې نه زړه تورکړ.هره ورځ به ورته ورتله چې وثیقه وروسپاري.لیکین هغه به ورته کله یوه بانه(پلمه) کوله اوکله بله. په دې« نن او سباراشه »کې پې میاشتې میاشتې ووتې.

*****

دورځونه یوه ورځ چې محکمې ته روانه وه نوپه لاره کې ورله ګل جان ماما مخې ته ورغلی و.ګل جان چې ددې کلي یوتجربه کاره اودټولوددرناوي وړسړی دی هغې ته وویل:
خورې داسې وکړه چې خدای یې کوي. یوڅوټنګې(ټنګه په دې کلي کې پینځه ویشت پولی ته وایي)جمعه کړه اومحرر صیب ته یې په ججوره ورومنده! څوپورې چې هغه ته دا د ټنګوبدې ورنه کړې نودوثیقې خاونده به نه شې اوپه دې نن اوسباراشه کې به دې دسرپاتې توروینستان هم تک سپین او وابښې وړئ شي.
ګل مرجانې په حیرانتیاسره دهغه نه تپوس وکړچې ماریرخو ددې کلي اوسیدونکی اوزمونږخپلوان دی نوزمانه به هم بدې اخلي؟ داقواله چې نه راکوي نوڅوټنګوته یې ایښې ده. ښه ښه وروره! اوس پې پویه(پوه)شوم چې څوټنګوته یې سترګې پټې کړې دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګل جان: بیلکل،بیلکل همدغسې خبره ده.هغه چې درنه څو ټنګې نه وي بودکړې، بس تا به همداسې له کوره ترمحکمې تنسته جوړه کړې وي.هغه ته که زاړی خسی، جانمازاویا سلګونه روپۍ نه وررسیږي نوټنګې خوبې قلنګ دی.هغه د ټنګوباچادی.دکلي ټول لوي واړه ورته دټنګوباچا اولاځیني ځیني کسان ورته ټنګه سری ماریرهم وایي.وګوره په همدې ټنګوخوهغه دکلي نه بارڅومره لویه کلا جوړه کړه. څومره آوي اوللمي ځمکې یې خپلې کړې.همدادټنګوپه برکت خویې خپل ټول بچي تعلیم والاکړل. ښوښوځایونوته یې ورسول. ته هم یوڅوټنګې جمعه کړه اوځان تې په حیا پرده کې خلاص کړه چې بله لانجه درته جوړه نه کړي!
ګل مرجانه: څه وکړوورورګله دټنګودجمعه کولوهم راته څه نه دي پاتې. یوه غوا موده هغه هم زاړې (چې دلنګون نه یې ډیروخت تیر وي) شوې ده. یوټکی شوده چې وکړي نو ایله پې درنځورغاړي زوي حلق لوندکړو.دومره نه وي چې په چا یې وپلورو.دغوا خسی هم په خپله مخه لاړواو جانماز هم...بل درک خرک مونه شته، خوستاخبره به ځمکې ته نه غورځوم اوله همدې ننه به سردډاګې ډاګې وهم چې یوه یوه ټنکه راجمعه کړم اودې کدوسري ته یې په خوله ور ومنډم.

*****

داځل چې محکمې ته ورننوتله اودخدای نوم یې یادکړچې په خیر ددې تګ راتګ نه خلاصه شي نودپلوغوټه یې هم ښه ټینګه په لاس کې نیولې وه. دهغه ددفتردروازه یې بې له ټک ټکه وروشان بیرته کړه، دکوټې په یوه کونج کې یې دیوال ته ډډه ووهله اودپښوپه سرلکه باران وهلې چیمچنه ټوغه کیناسته. اوس پې نودمحررصیب ښه پوره سام(ترهه - ډار) پروت و.
محررصیب میزته په چوکۍ ناست واوکومه دوسیه یې کتله. دې ته یې ترسترګولاندې وروکتل، خوڅه ګړه بړه اوسترې مشي یې ورسره ونه کړل. لږوروسته یې پام شوچې هغې د پلاوه غوټه ټینګه په لاس کې نیولې ده نوپه بریتونوکې ورته مسکی شواوپه «پخیرپخیریې شرووکړه».تروري په خیر راغلې په خیر...دې هم لږه په سترې شان لهجه دخیریوسې ځواب ورکړ.
محررصیب ترې تپوس و کړچې داپه پلوکې دې څه دې چې داغوټه دې ورله په لاس کې لاداسې ټینګه نیولې ده؟
ترور: بس خوری جانه هرڅه چې دې ستا دپاره دي. محرر ورته خوله چینګه کړه اوورته وی ویل: نوراکوه یې ترورجانې،په خولې دې برکت شه،هله زرې راکوه له خیره!
هغه ورپاڅیده اودمیزپه سرې پلوورایله کړ.ټنګوخوشرنګ شرونګ جوړکړ،لیکین دمحررپه زړه کې ځکه ترهه اوویره نه وه چې قاضي صیب اومفتي صیب خوخپل کارکړی دی نو که اوس دده دڅوټنګونه خبرهم شي، څه ری په کې نه وهي. ترورببرته په خپل ځای په ځمکه کیناسته اومحررصیب د ټنګوپه شمارلوپیل وکړ.
یوه ټنګه،دوه،درې،څلور،داهم شوه یوه افغانۍ. پینځه،شپږ... اته، دامې دې پوره دوه روپۍ شوې. دځان سره هغه داشمار دومره په زوره زوره کوي چې تروریې هم اوري. دامې دې شوې دولس ټنګې یادرې روپۍ . دیارلس،څوارلس...اوداهم شوې شپاړس ټنګې چې پوره څلورروپۍ ترې جوړې شوې. اوولس،اتلس اوداوروستۍ ټنګه یې نورلس(نونس).
محرر: تروري یوه ټنګه په کې کمه ده. چې دانورلس په خیر سره شل کړې نوپوره پینځه افغانۍ به شي.چې پینځه شوې نو ته به دې هم په خوشاله خوشالۍ سره نوې ځوې، ښایسته او رنګه قواله کورته یوسې.
وئ وئ زما ماریرخوریه! دانورلس ټنګې مې دډیرې مودې راهیسې په ډیره خوارۍ اوزاره چاودۍ راجمعه کړې دي. ددې دپاره مې راټولولې چې یوه ورځ بازارته لاړه شم اوڅه چیټاکۍ میټاکۍ شین« چی»(چای)پې واخلم. ډیره موده کیږي چې شین چی مې نه دی څښلی. ډیر زړه مې ورته کیږي، خو څه وکړومیرات مړی ډ یرقیمته(ګران) دی. چې کله کله را باندې سرخوړی زوروکړي نوشین چې ته مې ډیرزیات زړه کیږي.بس بله چاره نه وي نودښونانوپاڼې وخوټکوم،پیاله نیمه ترې وڅښم اوبیاپه ځای اوده(بیده) شم. سهارسهارخوبیګانی سکړک په نغري کې تودشي،کله سپوراولاکله یې دتودواوبو سره ترستوني تیرکړو.

*****

نوماریرګله خوریه هرڅومره صبرچې مې وکړاودانورلس شل کړم چې بیا پې په بازارکې شین«چی»واخلم، خونورلس مې شل نه شوې.اوس مجبوره شوم چې داقواله ستا دمیزدبند نه راخلاصه کړم نودقرآنکریم دکڅوړې نه مې راوویستې او ستادپاره مې په پلوپورې غوټه کړې.خیردی چې یوه ټنګه په کې کمه ده نوته هم زما خوریه کیږي اودایوه ټنګه خوبه راله ارومرولیاز(لحاظ)هم کوې کنه!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محرر: يره تروري ريشتياچې ته زمونږترورکيږي اوزه ستاخوری، ليکين مونږته هم لوي کورراپه غاړه دی. ډيربچي مې دي اوپه هغوی ډيره خرچه لګيږي.چې ټنګه ټنګه بچت نه کړو(ونه سپموو) نوبياموکورخراپ اوهغه دچاخبره په چرګه باردی.
همدا ديوې يوې ټنګې دجمعه کولوبرکت دی چې زمانه يې په دې کورکلي کې لوي شخصيت جوړکړی دی. بس په خوشالۍ سره درته وايم: هرکله چې دې شلمه ټنګه راوړله نو قواله(وثيقه)به دې يوسې په خير.چې نورمې سرخوږنه کړې. ځه پاڅـيره دخيره سره!
ترور: ګوره خوريه! زه ستا سره وعده کوم چې هروخت شلمه ټنګه په لاس راغله درته رابه يې وړم اويا به يې ستا ميرمنې ته په کورکې ورکړم، خواوس ميره با نې وکړه دا قواله راکړه چې په زړه پورې مې ټينګه نيولې وي اوکورته خانتما روانه يم.
محررصيب وچولی تريوکړاولړپه قارغوندې يې ورته وويل: ځه لاړه شه، بيادرته وايم چې نورمې مه پازابوه (په عذابوه)! دلته مونږډيرموهيم موهيم(مهم) کارونه لرو. نور خلک راځي. ځه خپل کاروکړه!چې کله دې شلمه ټنګه راوړه نوبيابه خوشاله کورته لاړه شې.
دترورحلق وچ کلک شو.ترې راپاڅيده اوپلويې ښه په شړق شړق وڅنډو.هغې په زړه کې وويل: ماويلې چې دادکلي خلک ورپسې اسې وايي چې«ټنګه سری ماريږ». داخوريشتيا چې «ټـــــنـــګه سری» دی.
چې له محکمې نه راووتله نوپه يادې شول چې مشرې لوريې هم دډيرې مودې راهيسې«درې ټنګې» جمعه کړي او په پلوپورې يې تړلې دي.بله چاره نه شته،بس دهغې دپلونه به يوه ټنګه را ايله کړم اودې ټنګه سرې ته به يې راوړم.

پای

دليکلونيټه يې: ۲۰۱۷/۱/۲۸ـ ۱۳۹۵/۱۱/۹

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ